دوکتور م ، ع ، روستار تره کی
فرانسه

د مارچ ۱ ، ۲۰۰۹ م کال

## د بگرام د بندیانو حقوقی حالت

د نړی په کچه د بگرام زندان تر ۲۰۰۴ م کال پوری ، د بندیانو د مرکزی توقیف ځای په توگه شمیرل کیده . پدی معنی چه په سیمه کی نیول شوی کسان د نوموړی مرکز نـه د افغانستان د بانـدی او د هغی جملی څخه گوانتانامو ته استول کیدل .

په هغه راپور چه په ۲۰۰۵ م کال کی په جینوآ کی د ملگرو ملتونو د بشر د حقونو ۶۱ مه غونـدی ته سپارل شوی ویل کیږی چه په افغانستان کی د بندیانو په وړاندی نـه یوازی د امریکائیانو لـه خوآ ، بلکه د افغانانو له طرفه د بشر د حقونو د اصولو څخه سرغړونه کیږی . پدغه برخه کـی د خصوصـی امنیتـی کمپنـی گـانو نـه پرتـه ، د دفـاع او کورنیو چـارو وزارتونـه او د استخبارا‌تو اداره د شـکنجی د اِعمال مسئول گنل شویدی .

د نویارک تایمز د څرگندونی له مخی په ۲۰۰۶ م کال کـی پـه بگرام کـی دوه تنـه افغانـان ( دلاور او حبیب الـه ) تر شـکنجی لانـدی شـهیدان شـوی دی . ورروسته د نومـوړی پیبنـی د زنـدان پـه د ننـه کلـک تدابیر ونیول شول تر څو چه د بندیانو په اړه احوال د باندی انتقال نکړی شی . هیچا تـه پتـه نـه لگیږی چه بندیانو ته شکنجه ورکول دوام لری او که بند شوی دی . او د هغو پـه شـمیر کـی څـومره کمښت او زیاتوالی راغلی ؟ .

د ۲۰۰۸ م کال د اگست په میاشت کیAngela Birt امریکایی صاحب منصب وویل :

« په بگرام کی د وحشت څخه ډک حالت برقرار دی ...» .

او باما د امریکا نـوی ولسمشر تـصمیم نیولی چه د گوانتانـامو زنـدان وتړی . امـا دا خطر شته چـه وریسی لږ تر لږه د سیمی نه نوی توقیف شوی کسان بگرام ته واستول شی . او هلته د مدیا د څـارنی

نه د باندی  د غیر قانونی چلند سره مخ شی . په همدی مقصد د گوانتانامو د زندان د ترلو په موازاتو کی د بگرام د محبس د ودانی پراختیا د ۶۰ ملیونو دالرو په لگښت په نظر کی نیول شوی دی .

که په افغانستان کی د بهرنیو قوتونو حضور او ورسره جگړه اوږد مهاله شی ، دا احتمال شته چه د بگرام زندان د دولتی تروریزم په یو لوی نړیوال مرکز بدل او دهغه د ننه د ژورنالیستانو او د بشر د حقونو د سازمانونو د څارنی نه به لری ، د بندیانو سره د قانون خلاف چلند وشی .

د ۲۰۰۱ م کال راهیسی نړیوال سره صلیب پدی باندی بریالی شو چه د بگرام د بندیانو سره تماس تینگ کړی . پدی شرط باندی چه د هغوی نومونه به د باندی نه افشآ کوی . د دغه بندیز نه داسی څرگندیږی چه د محبس اداره چیان غواړی چه د بندیانو به منځ کی تر شکنجی لاندی د احتمالی تلفاتو حساب او کتاب مدیا ته لار ونه مومی .

په هر حال إسږ کال د جنوری په ۷ نیته ۴ تنه هغو بندیانو چه د افغانستان د باندی توقیف اوپه بگرام کی د کلونو راهیسی په بند کی ساتل شوی وو ،  د یو فدرال قاضی( باتس )  څخه غوښتنه وکړه ، چه دوی ته اجازه ورکړی چه د ملکی محکمی په وړاندی د ځان نه دفاع وکړی .

امریکایی چارواکو دوی ته منفی ځواب ورکړ .

دامریکا حکومت د گوانتانامو د زندان د ترلو او د بگرام د محبس د ساتلو په اړه وایی :

ـ د گوانتانامو زندان په یوه جزیره کی ځای لری چه د کیوبا څخه په اجاره اخیستل شوی دی. کوم چه نوموړی جزیره د امریکا د خاوری یوه برخه نه گنل کیږی ، نو د امریکا د قوانینو تر پوشش لاندی نشی راتلای .

ـ د امریکا نوی اداره د هغو اعتراضونو په وړاندی چه باید د بگرام د بندیانو سره د گوانتانامو په شان چلند وشی ، ویلی چه د دواړو تر منځ اختلاف پدی کی دی چه گوانتانامو د امریکا د خاوری یوه برخه نه جوړوی ، حال دا چه د بگرام زندان د جگړی په ساحه کی قرار لری .

دغه خبره چه د بگرام محبس د جگړی په دگر کی قرار لری د اصولو سره سمون نه خوری . ځکه چه د نړیوال حقوقو له نظره جگړه د دولتونو تر منځ نښتی ته ویل کیږی . امریکا د وسله والی ملیشی سره جنگیږی نه د یو دولت په وړاندی .

خو که موږ فرضآ د جگړی د حقوقی تعریف نه تیر شو ، او دا ومنو چه د بگرام زندان د جگړی په ساحه کی ځای لری ، پدغه حالت کی باید  د  بندیانو سره  د جگړی د حقوقود اصولو په بنست چلند وشی.

واقعیت دادی چه افغانستان د بهرنیو قوتونو تر اشغال لاندی دی . د اشغال په حالت کی وسله وال مخالفین د مقاومت حیثیت غوره کوی او باید اشغالگرو ځواکونو له طرفه دوی سره د جگړی د نړیوالو حقوقو په چوکات کی چلند وشی .

کله چه د مقاومت غړی د جګړی په ترڅ کی توقیف کیږی د جنګی اسیر په توګه د یو لړ حقوقو څخه برخمن دی .

د جینـوا لمـړی کانوانـسیون ( ۱۸۶۴م ) ، د جینـوا دریـم کانوانـسیون ( ۱۹۴۹ م ) او د هغـه ضـمایم پروتوکول ( ۱۹۷۷م ) غیر دولتـی جګړه ماروتـه حقوقی ملاتړ ور پـه برخـه کوی او دوی د جنګـی اسیرانو په توګه د ګن شمیر حقونو نه برخمن ګنی ( نمبر ۱ پروتوکول ، ۴۳ او ۴۴ مه ماده ) .

برائت ذمه ، د شکنجی څخه مصئونیت ، د دفاع وکیل د درلودلو حق او نور د توقیف شوی کسانو د حقوقو د جملی څخه دی چه باید د بهرنیو ځواکونو له خوا چه د جینوا د کانوانسیون یو اړخ جوړوی وپیژندل شی .

که د جګړه مارو او بندیانو د حقوقی حالت د څرنګوالی په اړه کوم شک پیدا شی ، قضیه د ذیصلاح محکمی له خوا فیصله کیږی .

کوم چه د بګرام زندان د امریکا له خوا اداره کیږی باید بندیانو د امریکـا د قوانینـو تـر پوشش لانـدی وی.

که د امریکا نـوی حکومت بګرام بندیانو سره د حقوقی چلند پـه برخـه کـی کوم سوال ولـری ، دوه مراجعو ته مخ اړولی شی :

- د امریکا ستره محکمه
- د هاګ محکمه

د هاګ محکمه د دولتونو تر منځ شخړی حلوی . د دغه واقعیت پـه نظر کـی نیولـو سره چه پروسږ کال د کابل حکومت د هغه بندیانو د تسلیمیدو نـه چـه د زنـدان د اداری د امریکایی چارواکو لـه خـوا ورته وړاندی شوی وو ډډه وکړه ( امریکا یـی ځـایی صـاحب منصبانو غوښتنه کولـه چـه کابل امنیتـی اورګانونـه بندیان تـسلیم شـی او  د وی سره امریکایی چارواکو غونـدی چلند وکړی ) ، نـو د بندیانو قضیه د دولتونو تر منځ د یو متنازع فیه موضوع هاګ محکمی ته د ارجاع وړ ګڼلی شو .

په لنده توګه د مخالفینو د جګړی محرک هر څه وی ، موږ باید ځانته دا حق ورنکړو ، چه دوی د «ناقانونه جګړه مار» تر نامه لاندی د آسمانی او ځمکنی قوانینو د ملاتړ څخه بی برخی کړو .

د قانون د واکمنی ضد دریز پخپله تروریزم دی .

د غیر دولتی تروریزم سره د دولتـی تروریزم پـه وسیله مقابلـه کول ، کوم چه پـه اوه کـالو کـی پـه افغانستان کی د لسګونو زره ملکی خلکو د وژنـی لامل شـوی ،  تروریزم تـه د پراختیا ورکولو پـه معنی ده.